چمتو والي کچه

# چرګه مور



**ليکوال:** سنائي ايمبيوی
**انځورګر:** ډيويډ چېشا
**ژباړن:** برائن کاواناغ

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



دا چرګه مور ده. هغه د
خپلو چرګوړو لپاره یوه
مېلمستیا ترتیبول غواړي.



چرګه مور د مېلمستيا لپاره
د خواړو او مېوو اخيستلو
لپاره بازار ته تلل غواړي.

خو، هغه له يوازې تګ څخه
ډاړېږي.

چرګه مور له هيلۍ څخه
غوښتنه کوي چې له دې
سره ولاړه شي، خو هغه
انکار کوي.



چرګه مور له پيشو
څخه غوښتنه کوي چې
آيا هغه کولای شي چې
بازار ته ولاړه شي؟



پيشو ډېره لټه ده او نه ځي.



چرګه مور له وزې څخه پوښتنه کوي چې آیا هغه کولای شي بازار ته ولاړه شي؟



وزه هم انکار کوي.




چرګه مور له بانګي چرګ
څخه غوښتنه کوي چې د
هغې د چرګوړو پاملرنه
وکړي.




چرګه مور یوازې بازار ته د
تګ پریکړه کوي.



په لاره کې هغه وحشي سپي
کوري.





وحشي سپي په چرګې مور پسې منډه وهي.



چرګه مور ښه په تېزۍ
سره منډه وهي.



وحشي سپي چرګې مور
ته رسېدو ته نږدې دي!





چرګه مور په نره سره هغوی سره جنګیږي.





ټک! ټک! ټک!



اوس چرګه مور په وحشي سپیانو پسې ده!



چرګه مور بالاخره بازار
ته رسیږي.

هغه هر هغه شی پیري
چې هغه ورته د مېلمستیا
لپاره اړتیا لري.



خوګ له چرګې مور سره
د هګۍ کور ته د سامان
په وړلو کې مرسته کوي.







چرګه مور د خپلو چرګوړو او خپلو ملګرو لپاره يوه ستره مېلمستيا چمتو کوي.

## لارښودونکې پوښتنې

1. ولې چرګه مور یوه مېلمستیا کول غواړي؟
2. ولې چرګه مور له هیلۍ، پیشو او وزې څخه له هغې سره بازار ته د تګ غوښتنه کوي؟
3. چرګه مور چې کله لومړۍ له وحشي سپو سره مخامخ شي، نو څه کوي؟
4. ولې چرګه مور سپو سره د جنګ کولو پرېکړه کوي؟ تاسې د هغه څه په هکله چې هغې وکړل، څه فکر کوئ؟
5. څوک مېلمستیا ته بلل شوی دی؟ څوک بلنه نه ترلاسه کوي؟ ولې؟